خېړنې د بنه
افغانستان
لپاره

AREU

میرویس ایوبي او ډاکترهارون رحیمي

مرغومی ۱۳۹۷

# د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه

## سریزه

د ۱۹ پېړۍ له پای او د عامه اداري د اوسنیو سازمانونو له پیل څخه راهیسې په افغانستان کې دولتونو د عامه اداري بېلا بېل ماډلونه کارولي دي. دغه ماډلونه د مرکزیت له سیستم څخه تر داسې مرکزي سیستم پورې چې څواک پکې ویېشل شوی وي او د ځواک تر غیر مرکزي سیستم پورې رسیږي. په هر حال، د ګڼو او ورسره لاملونو له وجې، لکه قومي او دودیز جوړښتونه، سیاسي بې ثباتي، د رژیم چټک بدلون، پرلپسې تاریخي ولولې او د اداري اصلاحاتو له پورته څخه ښکته او وارد شوی ماهیت ، له پردیو څخه د کرکې احساس او له مرکزي اداري څخه د بېلېدو قوتونه په افغاني ټولنه کې د دې سبب ګرځېدلي چې له دغو ماډلونو څخه یو هم په بریالۍ توګه بنسټیز نده شوي. اوسنۍ اساسي قانون چې په ۱۳۸۲ کال کې تصویب شو ، هڅه کوي ، البته له ځینو شرایطو سره سره، چې د مرکزي اداري یو غیر متمرکز شکل منځ ته راوړي.

د تېرې یوې نیمې لسیزې تجربې ښیي چې اوسنۍ اداري سیستم اغېزمن نه دی او نه شي کولای خپلې دندې پر مخ بوزي او ټاکل شویو موخو ته ورسیږي؛ حتی دا ادعا هم کولای شو چې دغه سیستم ناکام دی. د عامه اداري په برخه کې د اساسي قانون ابهام او ځنډ ، د اساسي قانون له خوا د اداري بنسټونو نیمګړتیاوې، د عامه اداري په برخه کې د اساسي قانون د پلي کیدو نشتوالی، او هغه ناتواني چې د اساسي قانون له حکمونو سره سم اداري بنسټونه ایجاد شي، څو هغه لاملونه دي چې په افغانستان کې یې د عامه اداري کمزورتیا رامنځ ته کړې ده.

## میتودولوژي (څېړندود ):

په حکومت کې دننه او له حکومت څخه بهر له اړینو مرکه ورکوونکو څخه د بحثونو پر بنسټ، د پالیسي دغه لیکنه په افغانستان کې د عامه اداري په جوړښت او چوکاټ کې د اصلاحاتو لپاره څو وړاندیزونه لري.

موږ د څېړنې له یوې طرحې څخه استفاده کړې چې د څو اړخیز کیفي میتود پر بنسټ ولاړه ده؛ زموږ څېړنیزه طرحه د لومړنیو او دویمو سرچینو د شننې او له کارپوهانو او پالیسي جوړوونکو سره له پخوا نیمه ترتیب شویو مرکو څخه جوړه شوې ده. موږ د خپلې څېړنې لپاره داسې اشخاص غوره کړي چې هم تیوریکي معلومات او هم عملي تجربې لري. پر همدې بنسټ، د نورو تر څنګ د اساسي قانون پر پلې کیدو باندې د څار د خپلواک کمیسیون (ICOIC) له غړو، د اداري بخش لوړ رتبه چارواکو او له حقوقي او اداري پوهانو سره په دې څېړنه کې مرکې شوې دي. مرکې په شخصي ډول تر سره شوې. مرکې د مخکې تیار شویو پوښتنو پر بنسټ تر سره شوې، مګر مرکه ورکوونکې هڅول شوي چې داسې موضوعات هم مطرح کړي چې د دوی په نظر اړین او په موضوع پورې اړوند برېښېدل؛ مرکه کوونکو، دغه راز نورې پوښتنې هم وکړې او د ضرورت په وخت کې یې تعقیبي پوښتنې هم مطرح کړې دي. د لومړنیو او دویمو سرچینو د مطالعې په ترڅ کې، موږ د افغانستان اساسي قوانین، او قواعد ، قانوني فرمانونه، اداري لارښوونې، رسمي راپورونه او دغه راز علمي خپرونې مطالعه کړې دي. په پای کې دغه لیکنه د عامه اداري په تیوریکي څېړنې باندې ولاړه ده، او په افغانستان کې یې د هغې تاریخي تکامل او د هغې اوسنی حالت، دندې او موخې هم تر څېړنې لاندې نیولې. لیکنه په افغانستان کې د عامه اداري د راتلونکې په اړه د څو سپارښتنو په وړاندې کولو سره پای ته رسیږي.

## د دې څېړنې اړينې موندنې:

- په افغانستان کې له تېرو اصلاحاتو څخه زده شوي سبقونه ښيي چې عاجل او بنيادي اصلاحات چې د لړزانده رژيمونو له خوا له پورته څخه ښکته ډول تر سره شوي، بې له دې چې د افغانستان شرايط او جوړښتيز محدوديتونه په نظر کې وساتي، له ناکامۍ سره مخامخ دي.
- که څه هم د افغاني پوهانو ډېرى په دې باور دي چې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون له خوا د عامه اداري تصويب شوى سيستم د مرکزيت په ساتلو سره داسې يو سيستم دى چې سمه ايز ارګانونو ته صلاحيت انتقالوي، د پوهانو يوه وړه ډله وړانديز کوي چې د اساسي قانون پر بنسټ د يو لړ سيمه ايزه شوراګانو تاسيس او د مشترکې حکومتولۍ اصل په افغانستان کې د اساسي قانون پر بنسټ اداري سيستم په يوه غير مرکزي سيستم يا په يوه داسې غير مرکزي سيستم اړوي چې سيمه ايز ارګانونو ته ځواک ورکوي.
- د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون سيمه ايزو شوراګانو ته يو لړ اړين صلاحيتونه ورکړي. البته په عمل کې دغه صلاحيتونه په مناسب ډول دې نهادونو ته نه دي انتقال شوي.
- د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون په دې اړه وضاحت نلري چې د نويو اداري سازمانونو د جوړېدو او لغوه کولو مناسب صلاحيت او کړنلاره چېرته پرته ده.
- د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون په ښکاره ډول په ډاګه کوي چې مرکزي اداره له وزارتونو څخه جوړه ده چې په انفرادي ډول دملي شورا په وړاندې مسؤليت لري، خو حکومت په ټوليزه توګه ملي شورا ته مسوؤل نه دى. په دې ډول، مرکزي اداري سازمانونه چې په وزارتونو پورې تړلي نه دي، د حساب ورکونې له ګواښ سره مخامخ دي. دغه ګواښ له دې امله را پيدا شوى چې د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په دننه کې يو تناقض شتون لري: اساسي قانون د دې هڅه کوي چې يو داسې اداري سيستم جوړ کړي چې د پارلماني سيستم له مخې جوړ شوى وي او په عين وخت کې ولسمشريز سياسي سيستم ته په نه ماتېدونکي ډول وفادار وي.
- په داسې حال کې چې بريښني اساسي قانون، اداري سيستم په مرکزي او سيمه ايزى اداري ويشني او مرکزي اداره د وزارتونو په حيث تعريفوي، او وزارتونه بيا په سيمه ايزه کچه اړوند رياستونه لري چې صلاحيت يې د مرکزي اداره په ذريعه په مستقيم ډول پلى کيږي.
- سره د دې چې د اساسي قانون له خوا په ښکاره ډول او د يوې ټاکلې مودې په دننه کې صلاحيت ورکړل شوى او د اداري اصلاحاتو لپاره يوه بېړنۍ اړتيا شته، بيا هم يو شمېر ډېر اړين قوانين نه دي تصويب شوي يا نوي شوي. په دې قوانينو کې د دولت اساسي جوړښت قانون، د سيمه ايزه حکومتولي قانون او د سيمه ايزو شوراګانو قانون شامليږي.
- يو لړ اوسني اداري نهادونه شکمن قانوني موقف لري. په دې نهادونو کې د حکومت د اجرائيه رئيس دفتر او په ولسمشرۍ ماڼۍ کې دننه جوړ شوي کميسيونونه او شوراګانې راځي. په دې برسېره، د اساسي قانون پر بنسټ يو شمېر نور اداري بنسټونه هم بايد جوړ شي، لکه د کليو او ولسواليو شوراګانې، د ښاروالو انتخابي شوراګانې او انتخابي ښاروالان.
- د محلي شوراګانو اوسني سلاکاران او صلاحيت لرونکى اشخاص داسې نه بريښي چې د اساسي قانون له خوا د تصويب شويو مشارکتي حکومتولي موخو په پلي کيدو کې دي ونډه ولري. په دې برسېره، سيمه ايزى اداري ته د زياتو او واقعي صلاحيتونو تفويض د دې لپاره يو لومړنى شرط دى چې سيمه ايزى شوراګانې په ريښتينې ډول د څارنې له صلاحيت څخه کار واخلي. په اوس مهال کې ولايتي شوراګانې- يوازينۍ سيمه ايزى شوراګانې چې انتخاب شوې او تشکيل شوي- يوازې سياسي چارې اجرا کوي.
- د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون د دولتي شرکتونو په اړه پوره لارښوونې نلري.
- افغانستان له داسې يوه قانوني چوکاټ څخه بې برخې دى چې کولاى شي د اداري بنسټونو حقوقي شخصيتونه تشريح او روښانه کړي. د بيلګې په ډول، څرګنده نه ده چې آيا کابينه، د وزيرانو شورا او په ولسمشرۍ ماڼۍ کې تاسيس شوي کميسيونونه او شوراګانې مشخص قانوني صلاحيتونه لري او که نه. که چېرته يې ولري، بيا يو شمېر حقوقي پوښتنو ته چې د دوى په بېلا بېلو قانوني صلاحيتونو پورې تعلق لري، ځوابونه ورکړل شي. که چېرې دغه نهادونه صلاحيت نلري، بيا بايد د دوى اړيکې له ملي شورا سره ښکاره شي.

## سپارښتنې:

که څه هم په افغانستان کې د عامه ادارې د بنیادي اصلاحاتو د محتوا او اړتیا په اړه لا هوکړه نه ده شوې، لاندینۍ سپارښتنې د دې څېړنې پر بنسټ وړاندې کېږي:

## په لنډ مهال کې د افغانستان حکومت باید

- د عامه ادارې په اړه بنیادي قوانین نافذ یا نوي کړي. په دې قوانینو کې د دولت د اساسي جوړښت قانون، د سیمه ایزو شوراګانو قانون، د سیمه ایزی حکومتولي قانون او د ښاروالیو قانون شاملیږي.
- د دې لپاره چې د اساسي قانون له مخې د عامه ادارې د موقف او په عمل کې د هغو د واک تر منځ نشتوالی ډکه شي، باید له وزارتونو څخه بهر نور بنسټونه د وزارتونو په ماډل کې مدغم شي، څو دوی وکولای شي د وزیرانو تر لارښوونې لاندې د تخنیکي سلاکارانو په څېر کار وکړي.
- د پالیسي جوړونې، بودیجې لګښت، پلان، استخدام او تدارکاتو په برخه کې باید سیمه ایزو ادارو ته په تدریجی ډول صلاحیتونه انتقال شي.
- د اساسي قانون پر بنسټ، صلاحیت لرونکی سیمه ایزی شوراګانې نه یوازې باید په دې موخه جوړې شي چې د لویې جرګې د دایرېدو لازم شرایط جوړ کړي، بلکې د دې لپاره چې د اساسي قانون له خوا تعیین شوي اخلاقي موخې تر لاسه شي.
- اغېزمن میکانیزمونه جوړ کړي چې په دې ذریعه د سیمه ایزو شوراګانو مشورتي نقشونه په ښه ډول اجرا شي.
- د والیانو او ولسوالانو کاري ظرفیتونه پیاوړی شي څو وکولای شي سیمه ایزه اداره په متحده ډول رهبري او همغږۍ منځ ته راوړي او له کړنو څخه اغیزمنه څارنه وکړي.

## په اوږد مهال کې په اساسي قانون کې باید لاندیني تعدیلات راشي

- یو متحد سیاسي سیستم جوړ شي او داخلي اختلافات رفع شي، په اوس مهال کې که څه هم سیاسي سیستم د ریاستي سیستم ځانګړتیاوې لري، عامه اداره د یوه پارلماني سیستم لپاره طرح شوی. دې شرایطو د پارلمان له خوا په عامه ادارې د څارنې لپاره جدي ستونزې راولاړې کړې او د دې سبب شوي چې د اساسي قانون په چوکاټ کې د عامه ادارې د مناسب پرمختګ مخه ونیول شي؛
- یو واقعي غیر متمرکز اداري سیستم دی باید جوړ شي چې ټول سیاسي او موسساتي مخکیني شرایط یې پوره وي؛
- د بنسټونو مرکزي اداري باید د اساسي قانون تر حکم لاندې راشي.
- د سیمه ایزی ادارې په وړاندې باید یوه متحده کړنلاره غوره شي.
- ښاري او سیمه ایزی شوراګانې باید سره یو ځای شي، یا د دوی اړیکې په داسې ډول توضیح او څرګندې شي، چې منتخبې سیمه ایز نهادونه وکولای شي د سیمه ایزو شوراګانو د پرېکړو اختیار ولري؛ په دې برسېره، که چېرې دوی سره یو ځای شي، د ټاکنو په شمېر کې هم کموالی راځي.
- د عامه ادارې موخې باید روښانه شي.

هغه نظريات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوې په ليکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د متحده ايالاتو د سولې انستيټوټ د نظرياتو منعکس کونکې ندی.

د خپرونې کوډ: ۱۸۱۹P

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې(AREU) په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پاليسۍ پورې اړوند څیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پايلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څیړنیزو بنسټونو په منځ کې په شپږم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني  ټولنو، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری له څیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شنوو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، څیني نوروسازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کيږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ Magazine Prospect)) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره SIDA)) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

The European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS) and British Council (BC).

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af